سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۵ / ۱۰ / ۱۴

د پاکستان په اړه بل المثله پالیسي

د ځینو استثناوو او ځانګړتیاوو پرته، پاکستان سره **بل المثله پالیسي** غوره کول او له احساساتو پرته په سړه سینه دهغې پلیتوب، دې هېواد سره د موجوده ستونزو په حل کې تر ټولو غوره، ښه او اسانه لار ګڼل کېدای شي.
ټولو ته ښکاره ده، پاکستانی دولت له افغان دولت سره له کلونو راهیسې او په تېره بیا اوسمهال بې غوغا، ارامه او په سړه سینه سیاسي لوبه کوي. له پاکستاني لوري په ظاهر کې هرڅه ارام او نورمال ښکاري؛ په خبرو، وعدو او ژمنو کې کمی نه لېدل کیږي، خو د دې غولوونکي ارامتیا شا ته، دغه دولت د افغانستان په وړاندې له سبوتاژ او بېلابېلو توطیو نیولې، د ترهګرو د مختلفو ډلو او د پوځیانو او ملیشو په ګډون، نااعلان شوې او نیابتي جګړه مخته وړي!
پاکستاني مقامات د تروریزم د ملاتړ او د ترهګرو په مرسته په افغانستان کې د لاسوهنې او پوځي تیري په اړه، د افغانستان پرله پسې نیوکې او اعتراضونه، په نرمه او دیپلوماتیکه ژبه او د مکر له اوښکو سره یوځای ځوابوي او داسې لوبه کوي چې هم د افغانانو نیوکې تکراري او بابیزه وځلوي، هم خپلو خلکو ته ځان په حق او د دوی د ګټو مدافع وړاندې کړي او هم د نړیوالې ټولنې په سترګو کې خاورې وپاشي او هغه تېرباسي او له دوی څخه پرله پسې ملاتړ، وسایل او پیسې ترلاسه کړي!
پاکستان، ترهګرو سره د مبارزې په نوم له نړیوالو پیسې راشکوي، خو په همدغو پیسو بیرته له پخوا زیات ترهګر روزي چې د بل ځل لپاره بیا د ډېرو ترهګرو د شتون په دعوې سره، نورې او ډېرې پیسې ترلاسه کړي.
پاکستاني چارواکو د افغانستان په وړاندې د ترهګرو پروژه، پوځ او استخباراتو(ISI) ته سپارلې.
پوځ او استخبارات دا پروژه ارامه، بې غږه او په سړه سینه مخته وړي!
بلخوا پاکستاني دولت خپلې مذهبي میډیا ته دنده ورکړې چې د افغانستان په وړاندې جهاد هم پخپله خوله او هم کله د طالب او اوس له هغو سره یوځای د داعش په ژبه جاري وساتي.
یعنې دا چې پاکستان د افغانستان په وړاندې خپلې ستراتیژیکې موخې لږ تر لږه په لاندې دریو لورو کې هممهال تعقیبوي:
(۱) په ټوله کې پاکستانی دولت په ارامه، سړه سینه خپله پلان شوې ستراتیژي پلي کوي
(۲) پوځ او استخبارات یې د ترهګرو پروژه روزي، صادروي او د دوی په نوم او حضور جګړه پرمخ وړي
(۳) مذهبي میډیا یې د استخباراتو تر څار او لارښوونې لاندې د جهاد فتوې ورکوی او د وخت له ضایع کېدو پرته، پرله پسې د افغانستان په وړاندې د جهاد ناري وهي!
په دې سیاسي لوبه کې د پاکستان حکومتونه او اشخاص بدلیږي، کلونه او وختونه تیریږي، لوبغاړي یو د بل ځای نیسي، خو د لوبې ماهیت نه بدلیږي او لا پسې پیچلې او سختیږي!
په دې توګه د پاکستان په وړاندې باالمثل پالیسي باید لږ تر لږه په لاندې درې برخو کې تدوین وي:
۱ ـ د افغان حکومت پالیسي د ستراتیژیکو موخو لپاره

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۲ ـ د افغاني استخباراتو پاليسي
۳ ـ د افغان مذهبي او مدني ميډيا پاليسي
لومړی ـ د پاکستان په وړاندې د افغان حکومت د پاليسۍ عمده لوري:
ـ د تروريزم پر ضد جګړه کې پاکستان سره، د حکومتونو په کچه د ګډې همکارۍ پاليسي او د هغې دوام (افغانستان بايد د تروريزم پر ضد سيمه يز او نړيوال ايتلاف کې د پاکستان په ګډون ټينګار ته ادامه ورکړي او په دې ايتلاف کې د پاکستاني دولت د ونډې په څرګندتيا او عملي ګډون هم ټينګار وشي)
ـ د دواړو ملتونو د کلتوري او اجتماعي اړيکو د غځولو په برخه کې ګډه همکاري
ـ د دواړو هېوادونو د ګډو متاقبلو ګټو پر بنسټ د اړيکو د رغاوی لپاره همکاری (تجارتي اړيکي، ترانزيت، پانګونه او ځيني نورې برخې)
ـ د پاکستان د ګوښه توب پرځای، د سيمه يزه اقتصادي همکارۍ په چوکاټ کې د پاکستان ښکېلتوب ، ګډون، همکاريو او ژمنو ته د پاکستان هڅول
ـ پر پاکستان د اغيزمنو ګاونډيو(لکه چين) او سيمه يزو هېوادو په مټ تروريزم سره د مبارزې، افغانستان سره د ښو اړيکو او افغانستان او سيمې ته د تروريزم د صدور د مخنيوي په موخه، پاکستان سره د دغو هېوادو د ګډ کار هڅونه
ـ پاکستان سره په دې خبره ګډ کار کول چې افغانستان د هغه هېواد روا ګټې د ترهګرو او د پوځي او استخباراتي لارو پرته هم د ګډې همکارۍ په مټ، ترلاسه کولای شي
ـ همدارنګه د پاکستان له منځګړتوب پرته، د طالبانو او داعش د مهو او اغيزمنو کړيو سره اړيکې نيول او سولې ته د هغوی راماتول
بلخوا پکار دي چې لږ تر لږه د لاندې مطالبو په اړه يوه ژوره ستراتيژيکه څېړنه ترسره او موجود وي:
ـ تروريزم چې پاکستان يې پالي او پنځوي، ايا يوازې يې پخپلو امکاناتو توليدوي که د نورو هېوادو امکانات هم ورسره دي؟
دا هېوادونه کوم دي او دا امکانات څه دي؟
ـ د تروريزم په توليد، هغه هم په پاکستان کې د نورو هېوادو موخه څه ده؟ دا هېوادونه کوم اهداف تعقيبوي؟
ـ د تروريزم په توليد او پاللو کې د پاکستان اهداف کوم يو دي؟
ـ د تروريزم په توليد او ملاتړ پاکستان، له افغانستانه څه غواړي؟
ـ افغانستان کې د پاکستان د اهدافو او موخو ټولګه
ـ افغانستان کې د پاکستان د موخو د پليتابه لپاره د پاکستان د اقداماتو ټولګه
ـ بلخوا پاکستان څخه، د افغانستان د اهدافو ټولګه
ـ د پاکستان په وړاندې د افغانستان د موخو د پليتابه لپاره د اقداماتو ټولګه
ـ د پاکستاني تروريستانو په وړاندې د افغانستان د اقداماتو ټولګه
ـ افغانستان ، تروريزم او د ګاونډ او سيمې هېوادونه(د اړيکو او اقداماتو ټولګه)
ـ افغانستان ، تروريزم او نړۍ(د اړيکو او اقداماتو ټولګه)
يادونه:
البته په پورته ياده برخه کې د افغانستان پاليسي په ځينو برخو کې بالمثل نه شي ګڼل کېدای او افغانستان د خپلو ګټو پر بنسټ هغه رغوي

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دوهم ـ د پاکستان په وړاندې د افغاني استخباراتي پالیسۍ په برخه کې:
یادونه:
د دې پالیسۍ منځپانګه، تشکیلات، موخې او اقدامات لکه د پاکستاني دولت د پالیسو پشان باید سري او پټ وي، خو په لاندې مواردو کې د افغاني استخباراتو کار عمومي جنبه لري:
ـ د افغانستان په کور دننه د استخباراتو پیاوړتیا چې د پاکستان لخوا د رالیږل شویو تروریستي ډلو مخه په ډیورنډ کرښه کې ونیسي
ـ د طالب هغو قومندانانو سره چې په کور دننه افغانستان کې جنګیږي، دولت کې د ونډې او په شراکت سره د سولې په موخه، مستقیمې اړیکې نیول او د هغو پراخول
ـ په افغان دولت او افغاني ټولنه کې د پاکستاني جاسوسانو پېژندنه او له منځه وړل
ـ په افغاني ټولنه او دولت کې د پاکستاني استخباراتو د سبوتاژ او ملي نفاق د هڅو شنډول
دریم ـ افغاني مذهبي او مدني میډیا او پاکستان:
د افغان مذهبي میډیا لخوا (نه د افغان دولت لخوا) د تروریزم په پالنه او صدور کې د پاکستان د ISI او پوځ په وړاندې د جهاد اعلان
ـ همدارنګه افغان مذهبي میډیا، د پاکستانۍ مذهبي میډیا د مقابلې لپاره هم باید چمتو شي او اغیزمنتوب یې زیات او له پاکستانۍ مذهبي میډیا څخه نووښت پخپلو لاسو کې واخلي، له دفاعي حالته ووځي او تعرضي بڼه خپله کړي.
ـ بلخوا افغان مدني میډیا دنده لري یوخوا د پاکستاني دولت په وړاندې د افغان دولت د رسمي دریځ پالیسي وچلوي او بلخوا د افغان مذهبي میډیا غږ لا اوچت کړي او د هغې بشپړ ملاتړ وکړي
ـ افغان مدني میډیا باید د سیمې او نړۍ له میډیا سره د تروریزم په ټکولو کې (په تېره بیا پاکستان کې) شریکه ژبه ولري او په دې برخه کې شریکې اړیکې پیداکړي او ګډې موخې وپالي
ـ افغان مدني میډیا باید په پاکستان کې له هغو کړیو، ډلو او شخصیتونو سره چې تروریزم خپل دښمن بولي هم اړیکې ورغوي او د ګډ کار ژبه پیدا کړي.
نور بیا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ